د امیرِ اهلِ سُنّت دامت برکاتهم العالیه د کتاب "نیکۍ کي دعوت" یو قسط

# د مور پښانتیا

پښتو

- د سُنّتو دکۍ اجتماع فضیلت
- کَلِمهٔ طَیِّبه به تر ټولو پورې فایده ورکوي
- د اِسلام 8 حصې
- د ګناه نه نه منع کول هم ګناه ده


شیخِ طریقت، امیرِ اَهلسُنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمّد الیاس عطّار قادري رضوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

دا مضمون د کتاب ”نیکی کی دعوت“ نه اخستے شوے دے

# د مور پښیمانتیا

دُعائے عطّار: یا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله ”د مور پښیمانتیا“ اولولي یا واوري هغه نه مور و پلار راضي کړې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه اوبخښې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د **الله** پاک آخري نبي **محمدِ** عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ”څوک چې سحر او ماښام په ما باندې لس لس ځله دُرُود شریف لوَلي، په ورځ د قیامت به هغه ته زما شفاعت ضرور رسیږي۔“

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حقیقي مَدَني ماشوم خوفِ خُدا

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! څنګه نازك دور راغلے دے چې نن مور او پلار د ”هلاك کوونکي مهربانۍ“ په ذریعه په خپلو لاسو خپل اولاد د جَهَنَّم کندې ته غورزَوي تر دې چې که اولاد ښخپله خپله اِصلاح کول غواړي هم نو د هغوئي [د نیك جوړیدو د] لارې د بندولو کوشش کوي، داسې مور او پلار لکه چې په خپل داسې کار کولو دا اِعلان کوي چې: ”مونږ جَهَنَّم ته یواځې ولې لاړ شو خپل اولاد به هم ځان سره بوځو(مَعَاذَالله).“ یو دور هغه وو چې د **الله** پاک ویره لرونکې مور د رحمت نه ډکه غیږه کښې لوئے شوو او د عشقِ مُصطفٰی لرونکې پلار د مهربانۍ په تربیَّت کښې غټو شوو مَدَني ماشومانو به په معاشره باندې داسې نښې پریښودې چې د هغوئي ښکُلې اداګانې نن هم زمونږ زړونه ځان ته راښکاږي، چنانچه د څلورو کالو یو حقیقي مَدَني ماشوم سَیِّد زاده د تهولو په وړاندې په چغو چغو ژړل، یو صاحِب چې د آلِ رسول د خدمَت جذبه ئې لرله ورته عرض اوکړو: شهزاده! خیر خو دے؟ که د څه څیز ضرورت وي نو ما ته حکم اوکړئ چې اوس په دې ساعت ئې درته

راوړم. دا ئې چې واوریدل نو د مَدَني ماشوم د ژړا آواز نور هم اوچت شو او اوئې وئیل: کاکا جانه! د اللّٰه پاک د غضب او د جَهَنَّم د عذاب د ویرې نه مې زړه ریږدي! هغه صاحِب ورته په مِینه عرض اوکړو: شهزاده! اوس خو لا تاسو ډیر وړوکے ئې، د اوس نه دومره ولې ویریږئ؟ خاطر جمع (یعني په اطمینان سره) اوسئ! ماشومانو ته به عذاب نه ورکولے کیږي. دا ئې چې واوریدل نو مَدَني ماشوم د خپلې ویرې حال نور هم ښکاره کړو او په ژړا ژړا ئې اُووئیل چې: کاکا جانه! ما لیدلي دي چې د غټو لرګو سوَزَولو د پاره د هغو نه واړه واړه لرګي او چخچې راتاؤ کړے شي، دا واړه لرګي زر وور اَخلي او د دې سره بیا غټ لرګي وور واخلي او اوسَوَزي! زه ویریږم چې هسې نه کله چې د ابوجهل او ابولَهَب په شان غټ غټ کافران په جَهَنَّم کښې سوزَوَل کیږي نو د هغوئي د سوَزَوَلو د پاره د وړو لرګو په ځائے ما وور ته غوزار نه کړي! خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼـو! تاسو خبر ئې چې هغه د څلورو کالو حقیقي مَدَني ماشوم څوك وو؟ هغه بل څوك نه وو! بلکه زمونږ د زخمي زړونو درمان او د اهلِ بیتِ اَطهار د سترګو ستورے حضرت سَیِّدُنا امام جَعفر صادِق رضی اللّٰہ عنہ وو. (بِتَغَیُّر اَنیسُ الواعِظین ص75)

تیری نسلِ پاک میں ہے بچّہ بچّہ نور کا
تو ہے عینِ نور تیرا سب گھرانا نور کا (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: اعلٰی حضرت رحمۃ اللّٰہ علیہ په دې شعر کښې فرمائي: یا نُورَ اللّٰه صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم! تاسو خو ئې نُور بلکه نُورٌ علٰـی نُور (یعني په نُور د پاسه نُور ئې). ستاسو صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په مُبارَك نسل کښې چې به د قیامته پورې څومره بچي وي یعني ساداتِ کرام، هغوئي هم ټول نُور دي. اے د نور والا خوږ خوږ آقا! ستاسو صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ټوله کورنئ نُور، نُور او نُور ده.

نور اندر نور باہر گھر کا گھر سب نور ہے
آگیا وہ نور والا جس کا سارا نور ہے

بَهر نُور کور کښې نُور هر طرف ته نُور دے
راغلو هغه نُور والا، ټول نُور چې د چا نُور دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دین په کارونو کښې د حوصله ماتولو والا مور پښیمانتیا

مور او پلار له پکار دي چې خپل اولاد ته د شروع نه د نیکو او د سُنَّتو ډك دِیني ماحول ورکړي، ګني د بد صُحبَت په وجه د ورانیدو په صورت کښې وار د لاسه تلے شي. سګِ

مدينه عُفِيَ عَنْهُ ته د هغه مَشرِيِ خور اُووئيل چې: يوې اسلامي خور د خپل ځوئ د اِصلاح د پاره په ژړا ژړا د دُعا عرض کړے دے، عاجزې وئيل چې، هائے! ما د خپله لاسه هغه برباد کړے دے، هغه مو د دعوتِ اسلامي په مَدرَسةُالْمَدينه کښې د حِفظ د پاره کښينولو خو هغه عاجزه به چې کوم سُنَّتونه زده کړل او بيا به ئې هغه په کور کښې بيانول نو مونږه به په هغه پورې ټوقې کولې. آخِر دا چې د هغه زړه مات شو او هغه مَدرسةُالمَدينه ته تلَل پريښودل، اوس د بدو دوستانو په صُحبَت کښې د اوسيدو په وجه لوفر شوے دے، په خوش قسمتئ سره اوس ما ته د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول نصيب شوے دے اوس زه ډيره زياته پښيمانه يم، هائے زما سره به څه کيږي!

صُحبتِ صَالِح تُرا صالِح کُنَد
صُحبتِ طالِع تُرا طالِع کُنَد

(يعني د ښه [کس] صُحبَت به تا ښه جوړ کړي) او (د بد صُحبَت به تا بد جوړ کړي)

# د سُنَّتو ډکې اِجتِماع فضيلت

خپل اولاد ته هم د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شريك کيدو رَغبت ورکوئ او پخپله هم د حاضريدو سعادت حاصلوئ، د داسې اِجتماعاتو د برکتونو به څه وائې! چنانچه د نبی کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عظيم دے چې: د قيامَت په ورځ به څه خلق داسې وي چې نه به اَنبياء وي او نه شهيدان، (خو) د هغوئي د مخونو نُور به د کتونکو سترګې بريښوي. اَنبياء او شهيدان چې د هغوئي مقام او د الله [په بارګاه کښې] نزديکت اُووِيني نو خوشحالي به ښکاره کوي. په صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان کښې يو صحابي عرض اوکړو: يارسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا به څوك (خوش نصيبه) وي؟ ارشاد ئې اُوفرمائيلو: دا به د مُختلِفو قبيلو او آبادو خلق وي کوم به چې (په دُنيا کښې) د الله پاک د ذِکر د پاره جمع کيدل او پاکې خبرې به ئې داسې راټولولې څنګه چې د کجورو خوړلو والا بهترينې کجورې راټولوي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب لِلْمُنذری ج2 ص252 حديث 2334)

يقيناً مقدّر کا وہ ہے سکندر
جسے خیر سے مل گیا دِینی ماحول
یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی
دِلائے گا خوفِ خدا دِینی ماحول (وسائلِ بخشش ص۶۰۲)

يقيناً د مُقدّر هغه دے سِکندر
چا ته چې نصيب شو په خير دا دِيني ماحول
دلته ده موقع د سُنّتو زده کولو
در به کړي تا ته خوفِ خُدا دا دِيني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# غافِل ځلمے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! د خوفِ خدا نه د زړه لړزَوَلو د پاره، په عشقِ مُصطفٰی کښې روح بے قراره کولو د پاره، د ګناهونو عادت ختمولو او د نيکو جذبه زياتولو د پاره او خپل ځان د سُنَّتو نمونه جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره خپل تعَلُّق مضبوط ساتئ، هره مياشت کم نه کم د درې ورځو د پاره د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قافله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. او په نيکو اعمالو د عمل مطابق د خپل ژوند شپې او ورځې تيروئ. راځئ چې! ستاسو د جذبے زياتولو د پاره تاسو ته يو "**مَدَني سپرلے**" واورَووم، چنانچه د **سرګودها**، (پنجاب، پاکستان) يو اسلامي ورور د خپلې توبې احوال بيان کړي دي، د هغې خُلاصه وړاندې کووم: د دعوتِ اسلامي د پاك او خوشبوداره دِيني ماحول نه د بَرَکتونو حاصلولو نه **مخکښې** زه د ځوانۍ په نشه کښې مَست ووم او د لوفرانو دوستانو په صُحبَت کښې مې د خپل ژوند قيمتي وختونه بربادول، په مُعاشره کښې کيدونکې داسې يوه ګناه نه وه پاتې چې زه به په هغې کښې نه ووم اخته شوے، په جينکو پسې شا ته شا ته تلَل، په هغوئي پسې آوازونه کول، شپه په **کلب** کښې او ورځ د تاش او بِليئرډ (د اسنوکر په شان يوه لوبه) په لوبيدو کښې بربادول او د کور والؤ په نصيحت کولو هغوئي ته کنزلې کول زما عادتونه جوړ شوي وو. ژوند مې هم دغسې په ګناهونو او غفلت کښې تيريدلو چې په خوش قِسمتئ سره د يو عاشقِ رسول د **اِنفِرادي کوشش** په برکت د دعوتِ اسلامي خوشبوداره دِيني ماحول رانصيب شو. د عاشقانِ رسول د صُحبَت په وجه ما ته په نيکو باندې د عمل کولو او د ګناهونو نه د لرې اوسيدو جذبه نصيب شوه، اَلْحَمْدُلِلّٰه ماګِيره پرينښوده او عِمامه مې هم په سر کړه، د دِيني کارونو شوق رانصيب شو او د **دَعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداره مَکتَبَةُالْمَدِيْنَه مَدَني رسالے په کوځو او کور په کور د تقسيمولو ذِهن مې هم جوړ شو.

| | |
|---|---|
| مرا ہر عمل بس تیرے واسطے ہو | کر اخلاص ایسا عطا یاالٰہی |
| زما هر يو عَمل دې وي دا ستا د پاره | کړې داسې اِخلاص را عطا يا اِلٰهي |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دې مَدَني سپرلي په باره کښې د نيکۍ دعوت

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼـو! تاسو اوليده چې! د "اِنفِرادي کوشش" هم څه ښکلي سپرلي وي! په ګناهونو کښې مست اوسيدونکے غافِل خلمے په عشقِ رسول کښې مَست شو. مونږ ته هُم په هر چا باندې اِنفِرادي کوشش کول پکار دي، که څوك زمونږه خبره اُومني او که نه زمونږ د پوهه کولو ثواب چرې هم نه ځي! زمونږ د اِنفِرادي کوشش په وجه که څوك په سمه لار روان شو نو اِنْ شَآءَاللّٰهالکريم زمونږه به هم بيړۍ پوريوځي. د بد صُحبَت نه هميشه لرې اوسيدل پکار دي ځکه چې د دې په وجه اِنسان خرابيږي او په قِسَما قِسَم ګناهونو کښې اخته کيږي او ښه صُحبَت هميشه ښه اثر کوي چنانچه د دَعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَکتَبَةُالْمَدِيْنَه چاپ شوي د 56 صفحو کتاب "اچھے ماحول کی برکتیں" صفحه 18 او 19 کښې دي چې: په يو حديث شريف کښې دي چې، د حضرتِ ابُو رَزين رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې هغوئي ته رَسُولُ الله صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم اُوفرمائيل: آيا زه تا ته د هُغه څيز اصل لار اُو نه ښايم چې ته په هغې د دُنيا او د آخِرت ښيګړه اُومومې (پس هغه اصل څيز دا دے چې) ته د ذِکر کوونڪو مجلس اختيار کړه. (شُعَبُ الايمان ج6 ص 492 حديث 9024)

د دې حديثِ پاك نه لاندې مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي چې د (ذکر والؤ د) مجلس نه مراد د عُلمائے دِين او اوليائے کامِلين، صالحينو او واصلينو (يعني د الله پاک د نيازمندو بندګانو) مجلسونه دي ځکه چې دا مجلسونه د جَنَّت باغونه دي څنګه چې په دويم حديث شريف کښې دي چې. دا مجلسونه خواه که مدرسے وي يا د درسِ قرآن و حديث مجلسونه وي يا د حضراتِ صوفيائے کِرامو مِحفَلونه وي. دا فرمان ډير جامِع دے. په کوم مجلس کښې چې د الله پاک وېره او د حُضور صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم عِشق او د اِطاعتِ رَسول صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم شوق پيدا شي هغه مجلس اِکسير (يعني فائده مند) دے. (مِراٰةُالمَناجيح ج6 ص 603تا 604)

سَنور جائے گی آخِرت اِن شاءاللّٰہ | تم اپنائے رکھو سدا دِینی ماحول
بَہُت سخت پچھتاؤ گے یاد رکھو | نہ عطّار تم چھوڑنا دینی ماحول

(وسائل بخشش ص 604)

ښکُلے به دې شي آخِرت اِنْ شَآءَاللّٰه | ته مضبوط ونيسه دا ديني ما حول

شي به ډېر زيات پښيمانه ياد ساته ته عطّارؔ مه پريږده دا ديني ما حول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کَلِمۀ طَيِّبه به فائِده ورکوي ترڅو پورې چې.....

د **حضرت** سَيِّدُنا اَنس بِن مالِك رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د رسولانو سالار، د نبيانو سردار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اِرشادِ فرمائي: "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه)" به هميشه خپلو لوستونکو ته فائِده رَسَوي او د هغوئي نه به عذاب لرې کوي تر څو چې د دې حق سپك اُونه ګڼي. **صحابۀ کرامو** علیہمُ الرِّضوان عرض اوکړو: **يا رَسُولَ الله** صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د کَلِمۀ طَيِّبَه حق سپك ګڼل څه دي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: يَظْهَرُ الْعَمَلُ بِمَعَاصِى اللّٰهِ فَلَا يُنْكَرُ وَلَا يُغَيَّرُ يعني (د "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" حق سپك ګڼل دا دي چې) د **الله** پاک د نافرمانئ کارونه لِيدل شي [خو] نه هغه منع کړے شي او نه بدل کړے شي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج3 ص184 حديث 3538)

## د اِسلام 8 حصّے

د **حضرت** سَيِّدُنا حُذيفَه رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د اِسلام اته حصّے دي: (1) اِسلام (2) لمونځ (3) زکوٰة (4) د رَمَضان روژه (5) حَجّ بَيتُ الله (6) د نيکئ حکم ورکول (7) د بَدئ نه منع کول او (8) د **الله** پاک په لار کښې جِهاد کول. او هغه کس کامياب نه دے د چا چې څه حِصَّه نه وي. (شُعَبُ الايمان ج6 ص94 حديث 7585)

## په دُنيا کښې به هم سزا ورکوله شي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو! کوم قوم چې د طاقت لرلو باوُجود ګناه کوونکي د هغې نه نه منع کوي، انديښنه ده چې هغه نه منع کوونکے قوم د مرګ نه مخکښې په دُنيا کښې په عذاب کښې ګرفتار شي. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا جَرِير رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې **د دوارو جهانو سردار** صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اِرشاد فرمائي چې: که په يو قوم کښې يو کس په ګناه کښې اخته وي او د قوم خلق باوجود د قُدرته [يعني د طاقت لرلو باوجود] هغه د ګناه نه نه منع کوي نو **الله** پاک به د هغوئي د مرګ نه مخکښې په هغوئي باندې خپل عذاب نازِل کړي. (سُنَنِ اَبُوداؤد ج4 ص164 حديث 4339)

## په آخِرت کښې به هم سزا ورکولے شي او په دُنيا کښې هم

**د دې** حديثِ پاك لاندې په "مِرْاٰۃُالمَنَاجِیح" کښې دي چې: په کوم قوم يا ډله کښې چې بعضې خلق په بدئ کښې اخته وي او هغه قوم د منع کولو د طاقت لرلو باوُجود هغوئي نه منع کوي نو هغوئي به هم د **الله** پاک د عذاب حقدار وي او دا عذاب به هغه خلق د مرګ نه مخکښې په دُنيا کښې اُووِيني. حضرتِ شيخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي (رحمۃُ اللہِ علیہ) فرمائي چې د بدئ په بدلَوَلو [يعني منع کولو] کښې کوتاهي کول د نورو جُرمونو په مُقابَله کښې په دې وجه جُدا دي چې د نورو ګناهونو سزا به په آخِرَت کښې ورکولے شي خو د دې کوتاهئ سزا به په دُنيا کښې ورکولے شي او د آخِرَت عذاب به د دې نه علاوه وي.

(مراٰۃالمَنَاجیح ج6 ص507)

## ستاسو زړه نه لړزيږي!

د جَنَّت د هميشه هميشه اوسيدونکو نعمتونو طمع لرونکو **اسلامي ورونړو!** ستاسو زړه نه لړزيږي؟ تاسو نه ويريږئ؟ چې **الله** پاک خو بے نيازه دے، هغه څه پرواه لري چې خلق دې هغه ته سجده اوکړي، يقيناً که ټول مخلوق هم د هغه په بارګاه کښې سرونه ښکته کړي نو بيا هم د هغه په ذات باندې د چا احسان نشته، مونږ ته د هغه د بے نيازئ او پټ تدبير نه ويريدل او د هغه د عذاب نه پناه غوښتل پکار دي، آخِر په دُنيا کښې به تر څو پورې مزے کوئ! ياد ساتئ! يوه نه يوه ورځ به هر يو ته مرګ راځي، د تورو تِيارو قبر ته به کوزيږې، او د خپلو کړو بدله به مومې.

اَلْمَوتُ بَابٌ کُلُّ نَفْسٍ دَاخِلُهَا　　اَلْمَوْتُ قَدَحٌ کُلُّ نَفْسٍ شَارِبُهَا

يعني **مرګ** يوه داسې دروازه ده چې په هغې به هر ساه لرونکے تيريږي او **مرګ** يو داسې جام دے چې هر يو به ئې څښي.

جی لگانے کی جا نہیں دنیا　　کس کو حاصِل دَوام ہوتا ہے

دا دُنيا نه دے ځائے د زړه لګولو　　دلته هيڅ څوك نه وي مُدام ژوندے

## د مړي بے وَسي

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼـو! هغه وخت به ښنده ځنګه بے وسه وي چې روح به ئې د بدن نه وَتلے وي او هغه وخت به څومره د بے وسئ عالَم وي چې د بدن نه به ئې قيمتي جامے وِيستلے شي، غَسَّال[يعني غسل ورکوونکے] به غسل ورکوي، کفن به وراغوستلے کيږي، څنګه د افسوس ساعت به وي چې جنازه به ئې پورته کيږي، هائے! هائے! دا دُنيا چې د دې د ښائسته کولو د پاره ئې ټول عمر منډې وهلي وې، د دې د پاره ئې د شپې خوبونه قُربان کړي وو، د دې د پاره د قِسماقِسم خطرو سره مخ شوے وو، د حسد کوونکو د رُکاوټونو جوړولو باوُجود ئې مقابله کړې وه او د دُنيا مال ئې ګټلے وو، ښه ډير دولت ئې جمع کړے وو،کوم کور ئې چې مضبوط جوړ کړے وو او بيا ئې په قِسما قِسم فرنِيچر ښکُلے کړے وو، هغه هرڅه به ترينه پاتې وي او دے به رُخصَتيږي. آه! قيمتي جامے به ئې کُنډې [هَينګر] ته زوړندې پاتې شي، که موټر ئې وو نو هغه به ترينه هُم په ګيراج کښې ولاړ پاتې شي، د لوبو سامان، د عيش او عِشرت سامانونه او د هر قِسمه مال او اسباب به ترينه په ځائے پاتې شي، هغه وخت به د مړي بے وَسي اِنتِها ته ورسيږي چې کله د هغه قدر کوونکي خلق هغه په خپلو اُوګو د پاسه واخلي او د دې بے وَفا دُنيا د عارضي خوشحالو او په رڼـاګانو ځليدونکي فاني کور نه ئې اُوباسي او د تيارو نه ډك قبر کښې د هغه د ښخولو د پاره اَدِيرے [يعني مُقبرے] ته روان شي.

عالَمِ انقلاب ہے دُنیا　　　چند لمحوں کا خواب ہے دُنیا
فخر کیوں دل لگائیں اِس سے　　　نہیں اچّھی، خراب ہے دُنیا

د شعر ترجَمه: يعني د دُنيا حالات ډير زر زر بدليږي، دا دُنيا بس د لږ ساعت خوب ليدل دي.د دي سره زړه لګول نه دي پکـار، ځکه چې دا دُنيا ښه نه ده خرابه ده!

## د قبر زړه درزوُونکے د نيکئ دعوت

**حضرت** سَيِّدُنا عمر بن عبدالعزيز رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د يوې جنازے سره مُقبرے ته تشريف يوړلو، هلته د يو قبر خوا ته کښيناستلو او په سوچ کښې ډوب شو، يو کس عرض اوکړو: يا اَمِيرَ المُؤمِنِين! تاسو رَحمَةُ اللهِ عَلَيه دلته يواځې ولې ناست ئې؟ اوئې فرمائيل: اوس اوس يو قبر ما ته غږ اوکړو او اوئې وئيل: اے عمر بن عبد العزيز (رَحمَةُ اللهِ عَلَيه)! زما نه دا تپوس ولې نه کوې

چې کوم خلق زما غیږې ته راشي زه د هغوئي سره څه سلوك کووم؟ ما هغه قبر ته اُووئیل: ما ته ضرور اووایه. هغه [قبر] اُووئیل: کله چې په ما کښې څوك ښخ کړے شي نو زه د هغه کفن اوشلووم او بدن ئې ټکړے ټکړے کړم او د هغه غوښې اُوخورم. آیا تاسو به زما نه دا تپوس نه کوئ چې زه د هغه د جوړونو سره څه کووم؟ ما اُووئیل: دا هم راته اووایه. نو هغه [قبر] اُووئیل: "لاسونه ئې د مړوَندونو نه، زنګونان ئې د پنډو نه او پنډئ ئې د ښپو نه جُدا کووم."

د دومره وئیلو نه پس حضرت سَیِّدُنا عمر بن عبدالعزیز رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیہ په سلګو سلګو په ژړا شو، چې لږ په هوش کښې راغلو نو څه داسې د عِبرَت "مدني ګلونه" ئې پیش کړل: اے اسلامي ورونـو! په دې دُنیا کښې زمونږه اوسیدل د ډیر لږ وخت د پاره دي، څوك چې په دې دُنیا کښې د اِقتِدار خاوند دے هغه به په (آخرت کښې) ډیر زیات ذلیله او خوار وي، څوك چې په دې دُنیا کښې مالدار دے هغه به (په آخِرت کښې) فقیر وي. د دې [دُنیا] ځلمے به بُوډا شي او څوك چې ژوندي دي هغوئي به مړه شي. دَ دُنیا ستاسو طرف ته راتلَل تاسو په دوکه کښې وانچوي، ځکه چې تاسو ته معلومه ده چې دا ډیره زر رخصتیدو والا ده. څه شُو د قرآن مجید تلاوت کوونکي؟ څه شُو د **بیتُ اللّٰه** حج کوونکي؟ څه شُو د رَمَضانُ المُبارك روژے نیوونکي؟ خاورو د هغوئي د بدنونو سره څه اوکړل؟ د قبر چینجو د هغوئي د غوښو څه انجام اوکړو؟ د هغوئي د هډوکو او جوړونو سره څه سلوك اوشو؟ قَسم په خدائے! کوم (بے عمله) چې به په دُنیا کښې په نرمو نرمو بِسترو پراته وو اوس هغوئي د آرام او سکون نه پس د خپل کور او وطن نه لرې په تنګئ کښې دي، د هغوئي اولاد په کوڅو کښې خوار و زار ګرځي ځکه چې د هغوئي کونډو [ښځو] بیا نکاح ګاني اوکړې او خپل کورونه ئې آباد کړل، د هغوئي خپلوانو د هغوئي په کورونو قبضه اوکړه او د هغوئی میراث ئې په خپل مینځ کښې تقسیم کړو. **وَاللّٰه!** په هغوئي کښې بعضې خوش نصیبه هم دي چې په قبرونو کښې مزے کوي او بعضې داسې هم دي چې په عذابِ قبر کښې اخته دي.

افسوس په کروړونو افسوس! اے نادانه! نن چې ته [د هغوئي] د مرګ په وخت کښې کله د خپل پلار، کله د خپل ځوئ او کله د خپل سَکه ورور سترګې بندوې، په هغوئي کښې چا ته غسل ورکوې، چا ته کفن اَغوندې، د چا جنازه په اُوګو کوې او څوك د قبر په تنګه او توره تِیاره کنده کښې ښخوے، (یاد ساته! صبا دا هر څه ستا سره هم کیدونکي دي) [بیا ئې اُوفرمائیل] کاش! چې ماته عِلم وے چې (په قبر کښې به) اول زما کوم یو رُخسار سخا کیږي

بيا حضرت سَيِّدُنا عمر بن عبد العزيز رحمۃُ اللہِ علیہ په ژړا شو او په ژړا ژړا كښې بے هوشه شولو او يوه هفته پس ئې د دې دُنيا نه تشريف يوړو [يعني وفات شو]. (اَلرَّوضُ الفَائق ص107)

حُجَّةُ الاسلام حضرت سَيِّدُنا امام ابو حامِد محمّد بن محمّد بن محمّد غزالي رحمۃُ اللہِ علیہ په "اِحياءُ العُلوم" كښې نقل كوي چې: د وَفات په وخت كښې د حضرتِ سَيِّدُنا عمر بن عبد العزيز رضی اللہ عنہ په ژبه دا آيتِ كريمه جاري وو:

تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَايُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًاط وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝ (پ20 القصص:83)

[مفهوم]ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا د آخرت كور مونږه د هغه خلقو د پاره جوړوو كوم خلق چې په زمكه كښې تَكَبُّر او فساد نه غواړي، او ښه انجام د پرهيزګارو د پاره دے (۸۳)

(اِحياءُ العُلوم ج5 ص230)

یادرکھ ہر آن آخِر موت ہے
بن تُو مت اَنجان آخِر موت ہے
مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی
عاقِل و نادان آخِر موت ہے
کیاخوشی ہو دل کو چَندے زِیست سے
غَمزدہ ہے جان آخِر موت ہے
مُلکِ فانی میں فنا ہر شَے کو ہے
سن لگا کر کان آخِر موت ہے
بارہاعلمی تجھے سمجھا چکے
مان یامت مان آخِر موت ہے

هر وخت ياد ساته آخِر دې مرګ دے
مه جوړيږه بے پروا آخِر دې مرګ دے
مري شپه او ورځ په زرګاؤ انسانان
عقلمند او هُم نادان آخِر دې مرګ دے
څه به شُو خوشحاله په دې لږ شان ژوند
زړه مې دے غمګين چې آخِر مرګ دے
هر شي به فنا شي ده فاني دُنيا
واوره په ډير غور آخِر دې مرګ دے
څو ځله مې پوهه كړې ته اے عِلمیؔ
كه منې او كه نه آخِر دې مرګ دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عِزَّت والا به ذليله کړي

**حضرت** سَيِّدُنا جَرير بِن عَبدُاللّٰه رضی اللہ عنہ فرمائي: که په يو قوم کښې مُعَزَّزِين يعني عِزَّت والا خلق داسې بدي منع نه کړي چې د هغې په منع کولو هغوئي قدرت لري نو **اللّٰه** پاک به هغوئي ذليله کړي. (تَنبِيهُ الْمُغْتَرِّين ص 236)

## د غوښو شوو غوړونو والا ګوڼ

حضرت سَيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رضی اللہ عنہ فرمائي: څوك چې واوري چې فلانکے كس په بد كار (يعني ګناه) کښې اخته شو او بيا (د طاقت لرلو باوجود) هغه ګناه کوونکے منع نه کړي نو د قيامَت په ورځ به هغه د غوښو شوو غوړونو والا ګوڼ وي. (اَيضاً)

## د ګناه نه نه منع کول کله ګناه ده

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو! په بيان شوو دوارو رِوايتونو باندې بيا بيا غور اوکړئ! د طاقت لرلو باوجود ګناه کوونکے د ګناه نه د نه منع کوونکي د پاره د ذِلَّت او په آخِرت کښې د "غوښو شوو غوړونو د کاڼه" په حالت کښې د راپاڅيدو سزا ده، دا مسئله ښه ياده ساتئ چې کله يو كس ګناه کوي او د ليدونکي غالِب ګمان دا وي چې که منع ئې کړم نو منع به شي نو منع كول به **واجِب** شي که منع ئې نه کړي نو ګنهګار او د وور د عذاب حقدار دے. بنده ته تقريباً هره ورځ داسې موقعې پيښيږي چې بعضې خلق د لاعلمئ په وجه يا د غفلت په سَبَب "بے خونده ګناه" کوي. اوس که غور اوکړے شي نو ډير ځله داسې فِکر جوړيږي چې که فلانکے پوهه کړم نو خبره به اُومني. خو بنده د سستئ يا شرم او لِحاظ په وجه هغه منع نه کړي او دغسې ګنهګار او د وور د عذاب حقدار اوګرځي. زما خپله ذاتي تجربه ده چې ناجائزه ګوتمه په ګوته کوونکي، په غاړه کښې د وسپنې زنځير اچولو والا وغيره مې چې کله پوهه کړي دي نو اکثرو هغه سمدستي لرې کړي دي، بعضې مې داسې ليدلي دي چې په جوش کښې راغلي دي او د سرو زرو زنځير ئې مات کړے دے! صحيح ده چې هر يو داسې نه کوي او هر يو په نورو باندې دومره اثر هم نه لري خو څوك چې بااثره

شَخصِيَّت وي د هغه د پاره د داسې قِسمه ګناهونو نه منع کول ګران نه وي او چې غالِب ګمان وي چې ګناه کوونکے به خبره اُومني نو په دې صورت کښې خو به منع کول **واجب** شي.

## د سرو زرو ګوتمه د نارینه د پاره حرامه ده

شهزادهٔ اعلیٰ حضرت، تاجدارِ اهلِسُنَّت، حُضُور مُفتيءِ اعظم رحمۃ اللہ علیه په داسې قِسمه معاملو کښې ډېر زيات مُتَحَرِّك وو [يعني فوراً به ئې منع کول] چنانچه "مفتیٔ اعظم کی اِستقامت و کرامت" صفحه 146 کښې د رَئيسُ القَلَم حضرت عَلَّامه ارشدُ القادري رحمۃ اللہ علیه په حواله نقل دي چې: د هغوئي (يعني سرکارِ مفتیءِ اعظم هِند) د پاره به د ټولو نه زيات تکليف ورکوونکے هغه منظر وو چې کله به ئې يو مسلمان د اسلامي شريعت خلاف څه کار کولو باندې اوليدو. د اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوف وَنَهۡیٌ عَنِ الۡمُنۡکَر (يعني د نيکئ د حکم ورکولو او د بدئ نه د منع کولو) د **فرض** ادا کولو په وخت کښې به هغوئي وړوکي او لوئے، مالدار او غريب او حاکِم او محکوم کښې هيڅ فرق نه کولو. د هغوئي د دربار دا عام معمول وو چې که د غټ نه غټ مالدار به وو يا د اوچتې نه اوچتې عُهدے لرونکے افسر به وو، د هغوئي په خدمت کښې د حاضريدو په وخت کښې به که د هغه په ګوته کښې د سرو زرو ګوتمه وه نو فوراً به ئې پرې لرې کوله او په ډېره مينه اومحبَّت به ئې ورته نصيحت کولو چې په شريعتِ محمَّدي کښې د نارينؤ د پاره (په ډيرو صورتونو کښې) د سرو زرو استعمال حرام دے. بيا به ئې په ډېر زړه راښکوونکي انداز کښې ارشاد فرمائيلو: بعضې ګناه يو ساعت دوه ساعته يا يوه ګينټه يا دوه ګينټے وي خو د سرو زرو د ګوتمې ګناه داسې ده چې ترڅو پورې د چا په ګوته وي مسلسل ګناه او ګناه ده. (د ګوتمې په باره کښې تفصيلي احکام د دې باب د صفحه **508** نه تر **511** کښې اُوګورئ)

مفتیٔ اعظم سے ہم کو پیار ہے — ان شاءَ اللّٰه اپنا بیڑا پار ہے

مُفتيءِ اعظم سره لرو مونږ محبّت
اِنۡ شَآءَاللّٰه ډير به مو ښه وي آخرت

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! — صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د شادو او د خِنزِير په شان مخونو والا

د **بيلـمانځو**، ردې بدې وئيونڪو، د غيبتونو او چغلئ عادت لرونڪو، د فلمونو او ډرامو ڪتونڪو او په قِسماقِسم ګناهونو ڪښې د اخته خلقو په صحبت ڪښې اوسيدونڪي او د طاقت لرلو باوجود هغوئي د ګناه نه نه منع ڪوونڪي دې وَيَريږي ځڪه چې د **اللّٰه** پاک **محبوب** صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم ارشاد فرمائي: په هُغه ذاتِ پاك مې دې قَسَم وي د چا په قبضهٔ قدرت ڪښې چې د **مُحَمَّد** (صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم) ساه ده! زما په اُمَّت ڪښې به بعضې خلق د خپلو قبرونو نه د **شادو** او **خِنزير** په شڪل ڪښې پاځي، دا به هغه خلق وي چا چې د ګنهګارانو سره تعَلُّقات ساتل او د قدرت لرلو باوجود ئې هغوئي د ګناهونو نه نهٔ منع ڪول.

(تفسِير دُرِّمنثُورج3ص 127)

# د شادو او د خِنزِير په شان مخونه

**هم** دغه رنګ د مخونو مسخ ڪيدلو يعني ورانيدلو مُتعَلِّق يو بل روايت اُوګورئ او فڪرمند شئ چنانچه حضرت سَيِّدُنا اَبُو اُمامَه رضی اللہ عنہ فرمائي چې د دې اُمَّت نه به بعضې خلق د قيامت په ورځ د **شادو** او **خِنزير** په شڪلونو ڪښې پاځي، ولې چې **هغوئي** د نافرمانو [خلقو] سره ڪښيني پاځي او هغوئي (د ګناهونو نه) نه منع ڪوي **حالانڪه** هغوئي د هغوئي د منع ڪولو طاقت لري. د دې روايت نقل ڪولو نه پس حضرت عَلّامه عبدُالوهاب شَعرانـي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زه وايم چې د نافرمانه خلقو سره د ناستې ولاړې ساتلو والؤ به دا حال وي چې هغوئي به پخپله غافِله هم نه وي او په ګناهونو ڪښې به اخته هم نه وي نو د هُغه خلقو به څه حال وي د چا چې خپل اندامونه د ګناه نه نه بس ڪوي! مونږ د **اللّٰه** پاک نه د هغه د مهربانئ سوال ڪوو. (تَنبِيهُ المُغتَرِّين ص 237)

# نن مو د مخ دانے او نښې پريشانه ڪوي خو......

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو!** تاسو دا دواړه رِوايتونه اولوستل! آيا تاسو سره څه غم پيدا نه شو؟ لږ سوچ خو اوڪړئ! نن ڪه د چا په مخ دانے وغيره راوخيژي يا ئې په مخ څه نښنه جوړه شي نو هغه به څو څو ځله ډاڪټرانو له لاړ شي يعني بنده د خپل مخ په رنګ او ښائِست ڪښې معمولي شان او هغه هم عارضي خرابي نه شي برداشت ڪولے نو غور اوڪړئ چې ڪه

څوك په ګناه كولو اُووِينو او غالب ګمان مو دا وي چې كه پوهه ئې كړم نو منع به شي بيا هم هغه د هغه ګناه نه د نه منع كولو په وجه مې كه صبا د قيامت په ورځ **مَعَاذَاللّٰه** مخ وران شي او د **شادو** او د **خِنزِير** په شان شي نو څه به كووم! دا خو د ګناه نه د نهٔ منع كوونكي د صُحبت اختياروونكي حال دے او څوك چې پخپله ګناه كوي نو معلومه نه ده چې د هغه به پخپله څه انجام كيږي!

## زما د تِيارو لارې روښانه شوې

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د جَنَّتُ الفِردَوس د ګټلو د پاره او نور خلق هم په دې لاره باندې د روانَولو د پاره، د دوزخ د عذاب نه ځان د بچ كولو د پاره او نور هم د هغې نه د ويرَوَلو د پاره د نيكئ د دعوت په دِيني كار كښې هر دم مشغول اوسئ. هره ورځ د [خپلو اعمالو د] جائزے په ذريعه د نيک اعمالو رساله كښې پخپله هم خانے ډكوئ او نورو ته هم د دې ترغيب وركوئ، پخپله هم هره مياشت د درې ورځو مَدَني قافله كښې سفر كوئ او نورو ته هم د دې دعوت وركوئ، ستاسو د ترغيب او [د نيكئ د] حِرص زياتولو د پاره تاسو ته يو مَدَني سپرلے اورَووم: د **حافِظ آباد** (پنجاب، پاكستان) اوسيدونكي يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې: د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره د تړون نه مخكښې زه د ګناهونو په جوره كنده كښې ورځ په ورځ ښخيدم. فلمونه ډرامے كتل، سندرې او سازونه اوريدل، د بے حيائې نه ډكې ناولې [يعني قِصّے] لوستل زما د ژوند معمول جوړ شوے وو. زه داسې غټ لوفر ووم چې ټوله شپه به مې د كوره بهر د بدو دوستانو په صُحبت كښې د ژوند قيمتي وختونه بربادَوَل، زما د دې غلطو حركتونو په وجه ټول كور والا سخت تنګ او پريشانه وو. د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره تعَلُّق لرونكي زما مشر ورور به زما د اِصلاح ډير زيات كوشش كولو خو د هغه د نصيحت په خبرو باندې عمل كول خو پريږده، زه د سره هډو د هغه خبرو اوريدو ته تيار نه وُوم. زما ورور په مستقِل مزاجئ سره په ما كوشش كولو. آخر د هغوئي فكرمندي پكار راغله. يوه ورځ قدرتي طور زما توَجُّه د هغه خوږو خبرو طرف ته لاړه، د خوفِ خُدا نه ډكې د هغه خبرې مې چې واوريدلې نو په ما ډير اثر اوشو او د جذباتو نه په ژړا شوم. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه زما د ستركو نه د غفلت پرده لرې شوه او زما په زړه كښې خوفِ خُدا پيدا شو. ما د خپل ورور په مخكښې د ټولو ګناهونو نه په رښتيني توبه اوكړه او د اسلامي ژوند تيرَوَلو وعده مې اوكړه، د

اللہ پاک په رحمت د خپل وررور سره د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو سَعادت رانصیب کیدو ، او د هغې په بَرَکت زما د ژوند د تِیارو لارې روښانه کیدل شروع شوې. زما وررور ما ته د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په مدني قافله کښې د سفر کولو د پاره اُووئیل نو ما د هغوئي په خواهش عمل اوکړو او د دې لیك د وخته پورې اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په یوه مخه د 26 میاشتو د مدني قافلے مسافِر یم. دا هر څه د یو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي یعني زما د خوړ خوړ مشر وررور په ما باندې په مُستَقِل مزاجۍ سره کیدونکې د اِنفِرادي کوشش نتیجه ده چې زما په شان د دِین نه عملي طور ډیر لرې اوسیدونکے ګنهګار کس اوس د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح په کوشش کولو کښې عملي طور مشغول دے.

تمھیں لطف آجائے گا زندگی کا　　قریب آکے دیکھو ذرا دِینی ماحول
نبی کی مَحبَّت میں رونے کا انداز　　چلے آؤ سِکھلائے گا دِینی ماحول

(وسائلِ بخشش ص 604)

تا ته به درکړي خوند دا خپل ژوند　　ته راشه د نِزدې نه، اُووینه دا دِیني ماحول
د نبي په محَبّت کښې د ژړیدو انداز　　ته راشه چې درته اوښائي دا دِیني ماحول

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اولیده چې! آخِر د مشر وررور په فکرمندۍ سره مسلسل اِنفِرادي کوشش پکار راغلو او کشر وررور د ګناهونو د دَلدَل نه را بهر شو او د 26 میاشتو د مدني قافلے مسافِر جوړ شو. هر یو اسلامي وررور ته پکار دي چې هغه په کور کښې او د کور نه بهر په هر ځائے کښې د نورو خلقو د نیك جوړَولو د پاره ډیر ډیر اِنفِرادي کوشش کوي او ثوابونه ګټي، دا دِیني کار دې هیڅ کله نه پریږدي، اِنفِرادي کوشش خو لکه د سرو زرو کان دے چې څومره ئې ګَنئ هغه همره سره زر به ترینه رااُوځي. یعني چې څومره اِنفِرادي کوشش زیات وي هغه همره به ثواب هم زیات کیږي نو بَس د "ثواب سره زر" جمع کوئ، فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: که اللہ پاک ستا په ذریعه یو کس ته هدایت ورکړي نو دا ستا دپاره د دې نه ښه دي چې ستا سَرَه سره اُوښان وي. (صحیح مُسلم ص 1311 حدیث 2406) که ستاسو په ذریعه چا هدایت اوموندو او دِیني ماحول ته راغلو نو د هغې ثواب به د دې نه

علاوه وي. که څوك د **مَدَني قافلے** مُسافِر جوړ شو نو د هغې ثواب جُدا او که څوك د **نيک اعمالو** عامل جوړ شو نو بيا خو ستاسو مزے شوې! بس تاسو چې د څومره خلقو د اصلاح سبَب جوړيږئ هغه همره به ستاسو ثواب زياتيږي. بس هر وخت د نيکئ دعوت ورکوئ، **فرمانِ مُصطفٰی** صلَّی اللہ علیہٖ واٰلہٖ وسلَّم دے: اِنَّ الدَّالَّ عَلَی الْخَيْرِ كَفَاعِلِهٖ يعني بيشکه د نيکئ لار ښودونکے د **نيکئ** کوونکي په شان دي. (تِرمِذِی ج4 ص305 حديث 2679)

جنّتی ہے وہ جس نے سنّت کے
خود کو سانچے میں ڈھال رکھا ہے (وسائلِ بخشش ص 357)

په سُنّتو چې عمل کړي کوم يو کس
خوش قسمته جنّتي دے هغه کس

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

يا رَبِّ مُصَطفٰي په خاطِر د مُصَطفٰی صلَّی اللہ علیہٖ واٰلہٖ وسلَّم مونږه ټچپله هم نيکئ کوونکي جوړ کړې او نورو ته هم د **نيکئ د دعوت** ورکولو توفيق راکړې، مونږه د ګناهونو نه اوساتې او د نورو خلقو د ګناهونو نه بچ کولو والا مو جوړ کړې، يا **الله** پاکه مونږه په جَنَّتُ الفِردَوس کښې بے حسابه داخل کړې او هلته راته د خپل خوږ حَبيب صلَّی اللہ علیہٖ واٰلہٖ وسلَّم په ګاونډ کښې ځائے رانصيب کړې. اٰمِين بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہٖ واٰلہٖ وسلَّم


مُعاف فضل و کرم سے ہو ہر خطا یا ربّ
ہو مغفِرت پئے سلطانِ انبیا یا ربّ
بِلا حساب ہو جنّت میں داخِلہ یا ربّ
پڑوس خُلد میں سرور کا ہو عطا یا ربّ
نبی کا صدقہ سدا کیلئے تُو راضی ہو
کبھی بھی ہو نہ ناراض یا خدا یا ربّ
(وسائلِ بخشش ص 98)

معاف مې په فضل او کرم کړې هر خطا يا ربّ
کړې مغفرت مې په خاطر د مُجتَبٰی يا ربّ
ته بے حِسابه په جنّت کښې ما داخِل کړې ربّه
جنّت کښې راکړې ته ګاونډ د مُصطفٰی يا ربّ
په صَدَقه د خوږ نبي را نه راضي شې ربّه
کله هم نه شې ته ناراضه يا خُدا يا ربّ

اٰمِين بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہٖ واٰلہٖ وسلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکي هفتې رساله





عالمي مدني مرکز فیضان مدینه محله سوداگران پراڼي سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net